لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلاَ نَصِيفَهُ». "زما اصحابو ته کنځلې مه کوئ، ځکه که ستاسو څخه يو څوک د احد (د غره) په اندازه سره زر خيرات کړي، نو د هغه د يوې يا نيمې لپې په اندازه صدقې ته به ونه رسيږي

له ابو سعيد الخدری رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِي، فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ، وَلاَ نَصِيفَهُ». "زما اصحابو ته کنځلې مه کوئ، ځکه که ستاسو څخه يو څوک د احد (د غره) په اندازه سره زر خيرات کړي، نو د هغه د يوې يا نيمې لپې په اندازه صدقې ته به ونه رسيږي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو او په تېره بيا مخکښو مهاجرينو او انصارو ته له کنځلو کولو منعه کړې ده؛ او فرمايلي يې دي چې که يو څوک د احد د غره په اندازه سره زر خيرات کړي نو په ثواب کې به د صحابه کرامو د يوې يا نيمې لپې خيرات ته هم ونه رسيږي، د لپې څخه مراد د برابر سړي دواړه لاسونه دي چې (سره يو ځای يې کړي او) ډک يې کړي؛ دا د هغوی د زيات اخلاص، پاکو نيتونو او په خيرات کولو کې د مخکښ او جګړې له امله او دا چې هغوی د مکې له فتحې څخه وړاندې په سختو شيبو کې وو او خپله يې اړتيا زياته وه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/11000